AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

عبدالرحمن فرقانی ۲۰۲۰/۰۳/۲۲

# کورنا؛ د عبادت له ادا کول د ژوند تر مصوونیته

کورنا باید د الله تعالی پر تقدیر باندې د کلک ایمان ترڅنگ جدی ونیسو. د کورنا سره باید د احساساتي برخورد پرځای منطقی برخورد وکړو، تر څو ځان په خپل لاس هلاکت ته ورنه کړو.
په دې برخه کې د نقل(وحي) لاربنونه عقل ته چې د وحي پر احکامو د پوهېدو لپاره تر ټولو مهمه وسیله ده، دا ده، **[ولا تلقوا بایدیکم الی التهلکه..]** یعني پخپله ځان د مرگ خولې ته مه اچوئ! یا په بل عبارت پخپل لاس ځان مه وژنئ!.
په کار ده، چې د نړیوالو صحي سیستمونو او نظامونو وقایوي لاربنوني په خپل ژوندانه کې په دقیقه توگه عملی کړو، د عامه مصلحت لپاره د حکومت لاربنوني ته په غور پام وکړو.
که نن د انسان علم او عقل د نوموړی وبا د مخنیوی څخه بې وسه او عاجز دی، خو سبا به د الله تعالی په مرسته د خپل صبر،حوصلې، زیار او مبارزې په پایله په دې قادر شي، چې د نوموړی وبا مخنیوی وکړي.
په دې لیکنه کې هڅه کوو، چې د دیني او اخلاقي ستونزو تداخل او هغه دیني ستونزې چې د کورونا د وبا په هکله مطرح کېږي، په تېره بیا د جوماتونه تړل او د ډله ییزو دیني مناسکو لغوه کول وڅېړو.دا تاسو او دا هم د لیکنې تفصیل:
ټوله نړی دکورنا د ویروس د چټکي خپرېدا له امله اندېښمنه ده. ورځ تر بلې یې مرگ ژوبله زیاتېږي. نوموړې نړیواله وبا دبشري تاریخ په لړ کې نوې نه ده، نړی د عمر ابن الخطاب په زمانه کې دې ته د ورته وبا شاهده پاتې شوې ده، چې بیا یې لړی په بېلابېلو زمانو کې ادامه پیدا کړې ده. موږ په خپل تاریخ کې دوه مشهور طاعونونه پېژنو:

لومړې وبا د "عمواس" طاعون دی، چې د ۲۵- ۳۰ زره وگړي یې له منځه یوړل چې د قربانیانو له ډلې یې دوه مشهور اصحاب معاذ بن جبل او ابی عبیده ابن الجراح هم وو.
نوموړې وبا په ۱۷-۱۸ هجري کال کې د فلسطین په یوه واړه کلي "عمواس" کې پیل او بیا ټول شام چې هغه مهال لویه سیمه وه خوره شوه. د دغې وبا پر مهال د مسلمانانو سره د خپل ځانونو د خوندیتوب او د عبادتونو د ادا کولو په هکله گڼ شمیر پوښتنې راولاړې شوې وې، چې د نوموړې وبا په هکله مشهور مستشرق "یوسف فان اس" هر اړخیزه څېړنه تر سره کړې ده او په هکله ځانگړی کتاب په آلماني ژبه لیکلی دی.

دوهمه وبا هغه لوی طاعون دی، چې په ۱۳۴۸ میلادی کې په اورپا کې د "تور مرگ" په نامه وپېژندل شوه. چې دهغه مهال د اوسیدونکي دریمه برخه یې له منځه یوړل! نومړې وبا هم د مورخینو ا لیکوالانو پام ځانته واړاوه او په اړه یې گڼ شمیر کتابونه لیکل شوي دي. و باگانو په اړه ډېری داسې مورخینو او لیکوالانو هم لیکنې کړې دي، چې دوی یې هم د قربانیانو له ډلې گرځېدلي دي، لکه ابن الوردي، الحلبي او تاج الدین السبکي چې د جمعې په ورځ یې دخطبه وینا واوروله. د شنبې په ورځ په وبا مبتلا او د سه شنبې به ورځ وفات شو.
په ټول کې وبا گڼ شمیر پوښتنې د خلکو سره را منځته کوي، چې ځینې یې طبي، ځینې یې دیني، ځینې یې اخلاقي.. وي، که موږ د کورونا د وبا په هکله ځیر شو دې ته ورته پوښتنې دخلکو سره ډېرې شوي او په بېلابېلو محافلو کې مطرح کېږي، خو تر ډېره په اسلامي نړی کې یې اخلاقي بحث چې په طبي ډگر او یا طبي اخلاقیات ډگر کې خپل ارزښت لري، لږ تر سترگو کېږي یا په بل عبارت کم مطرح کېږی!.
په عمومي وباگانو کې چې ټوله نړی گواښي، تر ډېره طبیب د آني او فوري حل څخه د عاجزتوب له امله حل لارې نه شي وړاندې کولې په داسې حال کې چې د دین علماء خپل دیني تفسیرونه او دلایل او د وبا سره د راکړې ورکړې وړاندیزونه وړاندې کوي.
په ټول کې ملا او فقیه د وبا په اړه د اړوندو احادیثو او دوبا سره د سلفو د سلوک او چلند په لټه کې کېږي. او لاندې پوښتنو ته د ځواب ویلو هڅه کوي: آیا اللهی قدر او پرېکړې ته تسلیم شو او که ورسره مقاومت وکړو!؟ آیا وبا اللهی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

سزا ده، که اللهی رحمت؟ آیا نوموړې وبا اللهی فعل او یا غیبی فعل دی، که داسې ویروس دي، چې لاملونه او اسباب يې معلوم دي؟ آیا د وبا په اړه زموږ ارزونې د هر چا د خپل اعتقاد پر بنسټ توپیر کوي او که په دې هکله د ټول خلکو په تړواو حکم یو دی؟
په تاریخي لحاظ طاعون یا وبا داسې معما پاتې شوې چې پرې پوهېدل ګران دي. بېلابېل تفسیرونه يې په اړه شوي دي. خو په ټول کې یا پر مادي او یا هم پر دیني اسبابو یا لاملونو راڅرخېږي؛ چې مادي اسباب يې تر ډېره طبی او یا نجومي تصوراتو او تفسیرونو ته ورګرځي. فیلسوف او طبیب "ابن سینا" طاعون داسې تفسیر کړی دی: "طاعون د هغه هوا د جوهر فساد څخه عبارت دی، چې د روح لپاره ماده او ادامه ده " . او ځینې نجومپوهان يې بیا اسباب د ستورو او سیارو په حرکت پورې تړي، څرنګه چې مورخ "ابناياس " ورته اشاره کوي: نوموړی د کال ۹۱۹ هجري کال د طاعون په هکله وایي " کوم مهال چې لمر د حمل میاشتې ته ولېږدول شو، نو طاعون را څرګند شو" یعنې د پسرلي فصل په لومړیو کې. ښايي نوموړې تفسیر هغه مهال دومره رواج ۇ, چې کوم قوی استدلال ته يې اړتیا نه لېدل کېده.
خو طبیب "ابن نفیس" بیا د طاعون درامنځته کېدو اسباب هم آسماني او هم ځمکنې ګڼلی دي. ځمکنې يې د هوا له کړکتیا څخه عبارت دي او آسماني يې نجومي یا ستورلوژي اسباب دي، چې د اوړي او منې په پای کې دا حرکت ډېرېږي.
د مادي اسبابو څخه لېرې، ځینې فقها، محدثین او دینپوهان چې د نوموړې ښکارندې په اړه لیکنې لري بیا موضوع له دیني اړخه تفسیروي. "ابن حجر العسقلانی" په خپل کتاب " بذل الماعون فی فضل الطاعون" کې وايي: " چې طاعون ستاسو د دښمنانو (پیریان) د فریب له امله رامنځته کېږی" د هغه حدیث پر اساس چې په دې هکله روایت شوی دی. نوموړې په دې ټینګار کوي، چې طبیبان د موضوع د تفسیرپه اړه معذور ګڼل کېږي. ځکه د دې ښکارندې تفسیر د مشاهدې او تجربې پر اساس نه بلکې د وحې پر اساس شونی دی.
د کتاب د لیکلو موخه يې هم د طاعون په اړه د احادیثو د راټولول،د احکامو بیانول او وربانديې تبصره کول وو، او چا چې د لومړې ځل لپاره د طاعون په هکله احادیث راټول کړل، هغه "ابن ابی الدنیا "چې کال ۲۸۰ کې وفات شوی دی.
خو سره له دې ښايي ابن حجر العسقلانی هڅه کړې ده، چې د طبیبانو د خبرو او نظریاتو او نبوي احادیثو تر منځ پرته له تناقضه همغږي رامنځته کړی. د بېلګې په توګه د پیریانو فریب څرنګه چې طبیبان یا طب يې تفسیروي، د انسان په بدن کې د طاعون د اغیز او تاثیر له امله رامنځته کېږي. خو حقیقی او ریښتني سبب يې بیا انسانانو ته دپیریانو کرکه او دښمني ګڼل شوې ده.
ځینې نور تفسیرونه بیا پر دې باور دي، چې طاعون د ګناهونو د خپراوي له امله رامنځته کېږی. خو نوموړي تفسیرونه بیا متزلزل او نه همغږي پاتې شوي دي. په داسې حال کې چې طاعون په پرلپسې توګه د بشریت به ژوندانه کې رامنځته کېږي او د بې شمیره انسانانو ژوند اخلي. او د صحابی او نه صحابی، کافر، اهل ذمه او مسلمان، تر منځ توپیر نه کوي. کوم چې ټول د مملوکي عصر پر مهال د مسلمانانو ترڅنګ راووتل او الله تعالی ته يې د بلا او وبا د پورته کېدو دعا کوله.
دکورنا دنوي ویروس په اړه ځینې کوښش کوي، چې ایدیولوژیکي تفسیرونه وړاندې کړي، کوم چې د دوی له خپل لیدلوری سره اړخ لګوي. د بېلګې په توګه کورونا د چین لپاره د مسلمانانو پر وړاندې د دوی لپاره سزا ده!. او کله چې کورنا وبا تر چین ووتله نوموړي تفسیر خپل ارزښت له لاس ورکړ. همد رنګه ځینو نورو کوښش وکړ ، چې نوموړې ښکارنده د خپل لیدلوري لپاره وکاروي. دبېلګې په توګه صحي قرنطین هغه علمی اعجاز دی، چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم د ټولو څخه وړاندې پرې عمل کړی دی. څرنګه يې چې د طاعون د ځای پر نه وتلو او نه ننوتلو حکم کړی دی.
او یا د حجاب د فرضیت سره مناسبت لري!، په داسې حال کې چې اوس نر او ښځې دواړه ماسک اغوندي. آن دا چې دشعه ګانو لپاره بیا د ویروس خپراوی د امام مهدي د راڅرګندېدو لامل ګڼل کېږی!. د نوموړي ښکارندې تفسیر د دیني تفسیرونو تر بریده منحصر نه پاتې کېږی، بلکې سیاسي تفسیرونه هم په دې اړه وړاندې کېږی، لکه د امریکا او چین بیلوژیکه جګړه د یوه او بل پر وړاندې!.
خو د وبا پوهنې عصری علم بیا نوموړو ټولو تیرو یا زړوبېلابېلو تفسیرونو ته د پای ټکی ږدي؛ وبا پوهنه وروسته له دې چې ابن سیناپکې نظرورکړي، یو پرمختللی علمی او تخصصی ډګر ګرځېدلی دی. او د کورنا پر وړاندې اوسنی بې وسې موقته بې وسې ده، ځکه د کشفي علم امکانات اوس ډېر پراخ دي. او دا د پراخو او متراکمو زیارونو او په دوامداره زده کړه بانديې د انسان د ایمان پایله ده. او نوموړې امکانات یوازې تفسیري نه بلکې وقایوی او درملیز هم دي.
اوسنی حاکم وضعیت له موقت ناکامی څخه پرته بل تفسیر نه لري؛ له یوه اړخه له دې پرده پورته کوي، چې د وباګانو کمښت او نه پیښېدل د علم له پرمختګ سره تړاو نه لري. بلکې وباګانې او ویروسونه هم کېدای شي په داسې ډول پرمختګ او نوښت ولري، چې د علم د پرلپسې پرمختګ، د نړی له نېږدیکت او د الوتکو له حرکت سره همغږي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ولري، تر څو د انسان د علم که هر څومره يې پرمختګ کړی وي له محدوديت څخه پرده پورته کړي. او همدا راز د علم د پرمختګ د کټو تر څنګ دعلم د پرمختګ له زيانونو پرده بورته کړی.
او دغه اوسنی حاکمه بې وسي په حقيقت کې شته صحي سيستمونه او نظامونه په نښه کوی. چې په يوه وخت کې د دغو ډېرو ناروغانو د درملنې وس نه لری. او له دې کبله موږ د بې شميره قربانيانو شاهد يو او په دې کې هم شک نه شته چې د قربانيانو شمير د يوه هېواده تر بله - د صحی سيستم او نظام، صحی او وقايوي سياستونو اود افرادوالتزام نومو ړو سياستونو ته - د توپير پر بنست توپيرکوي.
سره له دې چې د ناروغيو ساريتوب هر چا ته روښانه دی، خو بيا هم ځيني د نه ساريتوب پر حديث استدلال کوي او د جوماتونو تړل، د جمعي او جماعت لمانځه ځنډل غير شرعي برېښره ګڼي. څرنګه چې حاکم المطيري او نور د سلفيت پلويان د هغو رسمي پرېکړو په مقابله کې د مخالفت دريځ خپل کړ، چې په سوريه، کويت، مصر او اماراتو او نورو هېوادونو کې د کورنا وايروس د مقابلې لپاره تر سره شوي او د هغه فتوی پر وړاندې چې د مسلمانانو د علماوو د اتحاد له لوری صادره شوه، او د جوماتونو د تړلو او د جمعي د لمانځه او جماعت د لمونځونو د ځنډېدلو پر جواز تصريح کوي، هغه اتحاد چې د اخوان المسلمين پلويان ګڼل کېږي. د يادونه وړ ده، چې ورته فتوی د امارات د فتوی له مجلس او مصری دار الافتاء څخه هم صادره شوی ده.
خو د نارغيو د ساريتوب په اړه تر وبا پوهني علم وړاندې هم زوړ بحث او مناقشه شتون لري. سره له دې چې ګڼ شمير احاديث شتون لري، چې د نارغيو په ساريتوب دلالت کوي. او د "لا عدوی" د حديث په اړوند د علماوو دريځ توپير کوي.ځيني د نارغيو ساريتوب نفي کوي، څرنګه چې "شهاب الدين بن ابی حجله " چې په کال ۷۷۶ کې وفات شوی دی او همدا راز "ابن حجر" په خپله رساله کې چې د طاعون په هکله يې ليکلي ده. او ځينو بيا ساريتوب ثابت کړی او تاييد دی، لکه "ابن خاتمه او لسان الدين بن الخطيب "په خپله رساله کې د طاعون په هکله يې ليکلي ده.
اړ يو وواپو ، چې د نارغيو ساريتوب او نه ساريتوب طبی مساله ده، او د نبوت له دندو څخه نه ګڼل کېږي. او په هکله د وبا پوهني نوي علم پرېکړه کوي. خو بايد ووايو، چې اعتقادي ابعاد هم لري، چې د نبوت د اساسي دندو څخه ګڼل کېږي، تر څو د خلکو عقيده سمه کړي. په ځانګړي توګه د ساريتوب په اړه د نجومي او طبي تفسير شتون، چې له اللهی قدرت څخه يې په بشپړه توګه بېلوي. همدا راز ټولنيز اړخ هم لري، په دې معنا چې ساري ناروغي ټولنه شله وي ،د ژوندانه بهيرونه او مسوولیتونه او ديني مناسک په ټپه دروي.
او ځينو علماوو په وبا کې ساريتوب په عملي ډول څېړلی دی؛ "شمس الدين المنبحي" چې په کال ۷۸۵ کې وفات شوی دی، په خپل اثر کې چې د طاعون په اړه يې ليکلی دی د هغو خلکو عمل يې غندلی دی، چې خلک يې د د لوی طاعون لپاره په يوه ځای کې د دعا لپاره را ټول کړل او طاعون په دې کار سره نور هم خور شو.
جالبه دا ده، چې "ابن حجر" هغه څوک چې د نارغيو د ساريتوب مخالف دی د وايروس په سرايت اعتراف کوي کوم مهال چې د "المنبحي " په نظر باندې تبصره کوي او وايي: او دا زموږ په زمانه کې هم پيښ شول کوم مهال چې په کال ۸۳۳ هجري کې په قاهره کې لوی طاعون رامنځته شو، او د مړو شميرپه يوه ورځ کې تر څلويښتو کسانو کم ؤ، خو کله چې بيبان ته ووتل لکه د استسقا د لمانځه لپاره نو مياشت تېره نه وه، چې په قاهره کې په يوه ورځ کې د مړو شمير تر زرو کسانو واوښت. او علت يې د ويروس ساريتوب ؤ. او نن د وايروس خپراوي تر بل هر وخت د لېږد و سايلو په او د خلکو د ټولنو په مرسته چټک شوی دی.
او د "المطيری" د تيروتنو څخه د بېلګې په توګه دا ده، چې د تاريخ په اوږدو کې د جوماتونو تړل نفی کوي. او په لږ پلټنې سره موږ په آسانی سره دوی مشهورې پيښې موندلی شو، چې پکې جوماتونه تړل شوي دي: لومړې پيښه په کال ۶۵۶ هجري کې کوم مهال چې تتار بغداد ښار ته ننوتل. "ابن کثير" او نور مورخين روايت کوي: د يوې مياشتې لپاره په بغداد کې د شديد ډار او پراخه مرګ له کبله جوماتونه وتړل شول، د جمعي او جماعت لمنځونه تعطيل شول.
او دوهمه پيښه: په کال ۱۲۱۵ هجري کې څرنګه چې مورخ "عبدالرحمن الجبرتي " د شيخ "حسن العطار "څخه په مصر او شام کې د طاعون د پيښو په اړه روايت کوي: " بازارونه وتړل شول. او ټول خلک په مړو، جنازه کونکو او نارغانو... و ويشل شول، علماء ، لوستونکی، چاروا کي، د حرفو خاوندان .. ټول مړه شول، په جوماتونه کې آذان او امامت وځنډول شول. او پاتي خلک پر نورو چارو مشغول شول... ".
په کار ده، چې د جوماتونه د تړلو او د شرعی تکليف د الغاء تر منځ توپير وشي. مجال نه شته چې د جمعي د لمانځه د الغاء په هکله بحث وشي، ځکه چې د جمعي لمونځ خپل بديل لري او هغه د ماسپښين لمونځ دی؛ او که اصل ـ د جمعي لمونځ ـ د شرعي عذر لپاره او يا د وقايوي سياست يا عمومي مصلحت لپاره ،ځنډول شي، نو بديل يي چې د ماسپيشين لمونځ دی، واجبېږی. څرنګه چې دجماعتونه او له ډلې يي د جمعي لمونځ وجوب يوازې په جوماتونو پورې نه محصورېږي، تر څو يي تر سره کېدل او نه تر سره کېدل د جومات په پرانبست پورې اړه ولري.
واقعيت د امر دا دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم خلکو ته د زيان او ضرر پر مهال امر کړی دی، تر څو به خپلو کورونو کې لمونځ وکړی. او په دې برخه کې د جمعي او نورو وختونو د لمانځه په منځ کې توپير نه شته؛ ځکه مساله په ډار، زيان، ګواښ او ضرر پورې تړلې ده، نه هم د پرېښي يا ځنډول شوي عبادت په نوعيت پورې. او که


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

چېرې دا چاره په ډېر کم ضرر او زيان ، لکه ورېښت، د ورېږ او پياز خوراک.. کي جواز لري. نو په اولی صورت د وبا او ساري نارغيو چي د پراخ هلاکت موجب ګرځي، که څه هم چي ځيني وخت د ګمان تر بريده وي د زيان په اړه جواز لري. په داسي حال کي چي امام الخطابی وايي: " دجمعي لمونځ فرض کفايي دی. که يي يوه ډله يې ادا کړي د نورو خلکو له غاړې ساقطيږي او په دې توګه نومورې ديني رسم برځای کيږي"!.
په دې اړه د ديني عبادتونو د الغاء يا تعطيل مخالفين دا خبره له پامه غورځوی، چي وبا ساري ناروغي ده، د يو کس ناسم تصرف د زرګونو خلکو د مرګ لامل کېدای شي. او دا له پامه غورځوي، چي د حکومت او صحي سيستمونو او نظامونو لارښوني د عامه مصلحت لپاره وړاندې کيږی.
ابتلا انسان متحانوي. ×يني انسانان الله تعالی ته رجوع کوي. د توبې او دعا لار خپلوی. د نورو سره همکاری او کمک کوي. او ځيني نور بيا د دنيا سره خپل تړاو او مينه پالي.
**ژباړه، ليکنه او تصرف:**
**عبدالرحمن فرقانی**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ